مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

نجیب منلی ۲۰۱۸/۱۱/۲۸

# د افغانستان اوبه او د پاکستان زهر

له څه مودې راهيسې پاکستانی رسنی په افغانستان کې د اوبو د مهارولو هڅې (لکه د شاه توت پروژه چې هند يې د ۲۳۶ مليونه ډالرو په ارزښت د کابل په سيمه کې د ۱۴۶ مليونه مکعب متره اوبو د ذخيره کولو په موخه د پلې کولو نيت لري) د افغانستان او پاکستان په روابطو کې د هند د لاس وهنې د يوې بېلګې په توګه عامه اذهانو ته وروپېژني.
د پاکستاني رسنيو دغه په اصطلاح انديښنې په يو شمېر معتبرو نړيوالو رسنيو کې هم انعکاس مومي او په افغانستان کې يې هم د جنجالي خبرونو تږي ژورنالستان او رسنۍ په غبرګولو کې ناغېږې نه کوي (دي نېشن – جولای ۹، دي ډيپلومات - اګست ۲۰، فارين پاليسي – نومبر ۱۳، رزاق مامون – د عقرب ۲۳)
پاکستان هڅه کوي چې خپل ولسونه له دې وډاروي چې په افغانستان کې، د کابل د سيند پر حوزه، د بندونو جوړول به د کرښې اخوا سيمې اعيزمنې کړي او له دې لارې د افغانستان په جګړه کې خپلې لاسوهنې توجيه کوي.
په افغانستان کې هم د تلويزيوني بحثونو کارپوهان چې د عينې واقعيتونو پر ځای پر عندي خيالونو ډېره تکيه کوي، کله نا کله پر پاکستان د اقتصادي فشار د وسيلې په توګه د اوبو مسئلې ته ګوته نيسي.
د افغانستان اوبه د يوې ستري ملي شتمنۍ په حيث د هېواد د اقتصادي راتلونکې په اړه يو محوري بحث دی خو دا موضوع يوه ساده شعاري خبره نه بلکې خورا پېچلي تخنيکي ابعاد لري چې ژور فکر غواړي.
په دې ليکنې کې د افغانستان د اوبو تر يوې سرسري ارزونې وروسته د افغانستان پر ضد د پاکستان د حکومت او استخباراتو د رواني جګړې له پاره د پاکستاني مطبوعاتو هغو ځرګندونو ته اشاره شوې چې ګواکې افغانستان د هند په مرسته پر پاکستان د اوبو وچولو هڅه کوي. همدا راز د افغان سياستوالو او تحليلګرو پام د دې موضوع واقعيت او حساسيتونو ته را اړول شوی دی.

## ۱ - د افغانستان د اوبو يوه عمومي ارزونه:

افغانستان د اوبو پينځه بېلابېلې حوزې لري چې هره يوه يې ځانګړې تخنيکي، اقتصادي او سياسي اړخونه لري. د دې ليکنې مرکزي ټکی د کابل سيند او له پاکستان سره د افغانستان د اوبو موضوع ده خو د مطلب د روښانتيا له پاره به په لنډ ډول هغه نورې څلور حوزې هم يادې کړو:

- **د آمو حوزه :**

د آمو د اوبو حوزه په افغانستان او ګاونډ کې پر ۲۲۷۸۰۰ مربع کيلومتر ساحه کې غوړېدلې چې ۳۹٪ يې (۹۱۰۰۰ مربع کيلومتره) په افغانستان کې ده. د آمو سيند ۲۵۴۰ کيلومتره اوږد دی چې ۱۲۰۰ کيلومتره يې له تاجيکستان، ازبېکستان او ترکمنستان سره د افغانستان ګډه پوله جوړوي. په افغانستان کې د آمو حوزه له پينځو مهمو برخو متشکله ده (رستاق، خان آباد، کوکچه، کندوز او پنج). د آمو سيند ۹۰۰ کيلومتره بستر د کښتيو چلولو وړتيا لري او د يو مهم ترانزيتي محور نقش لوبولای شي.
د آمو څنډو ته پرتې ځمکې په دوامدار ډول د تورل کېدو په حال کې دي نو د آمو د څنډو د استحکام موضوع د هېواد د سترو حياتي پروژو يوه برخه بلل کېدای شي. د کوکچې پر سيند ۴۵۰ ميګاواټو شاوخوا برېښنا په ظرفيت د بند پروژه هم ډيزاين شوې ده.

- **د هريرود-مرغاب حوزه:**

دا حوزه د هريرود، مرغاب او کوشک رود سيندونو څخه جوړه شوې ده او شاوخوا ۸۰۰۰۰ مربع کيلومتره مساحت لري.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

د مرغاب سیند په ۴۰۰۰۰ مربع کیلومتر ساحه کې پروت دی چې د ترکمنستان په شګو کې ورکیږي.
هری رود د بابا له غرونو پیل کیږي، ۶۵۰ کیلومتره د افغانستان دننه بهیږي، بیا سل کیلومتره د افغانستان او ایران پوله جوړوي، وروسته په همدومره اوږدوالي د ایران او ترکمنستان پوله جوړوي او بیا د ترکمنستان له تجن سره په شګو کې ورکیږي.
د هرات په چشت شریف کې د سلما بند د هریرود اوبه ذخیره کوي. دا بند ۶۴۰ ملیونه مکعب متره اوبه زېرمه کوي او ۴۲ میګاواټه برېښنا تولیدوي.
د هریرود اوبه د افغانستان د ابادۍ له پاره ضروري دي خو ایران او ترکمنستان هم تري ګټه اخیستل غواړي. افغانستان له ایران سره د هریرود د ویش له پاره کوم ځانګړی تړون نه لري نو ځکه ایران پر هریرود د بندونو او نورو تاسیساتو جوړولو ته د ګواښ په سترګه ګوري.

- ## د شمال حوزه:

د شمال د اوبو حوزه پر ۷۱۰۰۰ مربع کلیومتره پرته ده له له څلورو عمده سیندونو تشکیل شوې ده: بلخاب، خلم، سرپل او شیرین تګاب. د دې حوزې اهمیت له دې ټکي ښه څرګندیږي چې د بلخ تاریخي اهمیت د بلخاب له سیند سره تړلی دی.

- ## د هلمند حوزه:

هلمند د افغانستان تر ټولو ستر او اوږد داخلي سیند دی چې د آسیا په کچه په لسم کتار کې راځي. هلمند ۱۴۰۰ کیلومتره اوږدوالی لري. ، د اصلي رود – هلمند - تر څنګه د دې حوزې مهم سیندونه او رودونه دا دي: ادرسکن، ارغستان، چګای، ناور دبنته، فراه رود، خاشرود، خوسپه رود، اغنداب، موسی کلا، سرده او غزني، ترنک او ارغنداب. د هلمند د اوبو شبکې ۲۶۲۰۰۰ مربع کیلومتره ساحه پوښلي ده او د افغانستان په سلو کې څلوېښت کرنیزې ځمکې خړوبوي.
د هلمند د سیند په برنۍ برخه کې د اوبو جریان چټک دی. د ځمکو د تورل کېدو له امله په برنۍ سیمه کې ځمکې تخریبیږي او ښکته، د کجکي بند کاسه د خړې د کښېناستو له امله ډکیږي. تر اوسه د هلمند د حوزې د بېلابېلو رودنو د برنیو برخو (هزاره جات، روزګان، سیاه کوه...) د ځمکو د تخریب د مخنیوي او د اوبو له انرژۍ څخه د استفادې له پاره د اوبو د مدیریت په برخه کې لازم اقدامات نه دي شوي. د سرده بند، د دهلې بند، د کجکي بند او د کمال خان بند په دې حوزه کې د اوبو د تنظیم مهم تاسیسات دي.
د هلمند سیند د تاریخ په اوږدو کې څو واره خپل مسیر بدل کړی دی چې له ایران سره د پولو په تثبیت کې یې هم کله نا کله ستري ستونزې پیدا کړې دي.
د هلمند د اوبو په اړه د افغانستان او ایران تر منځه په ۱۳۵۲ کال کې یو تړون وشو چې له ګاونډیو هېوادونو سره د اوبو د ویش یوازینی حقوقي سند دی.

- ## د کابل حوزه :

د کابل حوزه چې ۷۷۰۰۰ کیلومتره مربع ساحه یې پوښلې او ورسره تړلي موضوعات د دې لیکنې اصلي بحث دی، چې وروسته څېړل کیږي.

- ## کوچني خوړونه :

د افغانستان د غربی جغرافیې او په هېواد کې د اوربښت د ټیټې کچې له امله د افغانستان د اوبو یوه د پام وړ برخه کوچنیو، محلي خوړونو ته ورځي. د دې اوبو یوه برخه د مستقیم تبخیر له امله هوا ته ځي، یوه برخه په محلي کروندو کې کارول کیږي، یوه کوچنۍ برخه د ځمکې لاندې زېرمې تغذیه کوي او یوه برخه یې د لویو سیندونو شبکې ته د ویجاړوونکو سېلابونو په بڼه ورګډیږي. پر خوړونو د اوبو د زېرمه کولو کوچني تاسیسات د افغانستان د اوبو د مدیریت یو مهم بحث دی. پر خوړونو د اوبه خور او د کلیوالي سیمو د څښاک د اوبو له پاره د کوچنیو بندونو جوړول به نه یوازې په محلي سطحه د خلکو د ژوند په ښه کولو کې اغېزمن وي بلکې تر څنګ به یې په اوږد مهال کې د چاپېریال په ښه کولو کې هم نقش د پام وړ وي. د خوړونو د اوبو سم مدیریت به د افغانستان د اوبو د مجموعي زېرمو په مدیریت کې مهم ځای ولري.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

## ۲ - له ګاونډیو هېوادونو سره د اوبو د کاروني ګډ مسایل:

له تاجیکستان او اوزبیکستان سره د اوبو پر وېش خاصه ستونزه نه شته خو د آمو پر بهیر شمال لوري ته د اوبو فشار هم کم دی او لازم استحکامات هم شته نو سوېل لوري ته د آمو د څنډو تخریب د افغانستان له پاره یوه مهمه موضوع ده چي حل یې هم تر ډېره د افغانانو په لاس کي دی. په بدخشان کي د کرنیزو ځمکو نه شتون او په ښکتني بهیر کي توپوګرافیک واقعیتونه (د اوبو له سطحي د افغانستان د ځمکو لوړوالی) د کرني په برخه کي د آمو له اوبو ګټه اخیستنه ستونزمنوي. له دي امله له پورته دوو ګاونډیو سره د اوبو پر سر کومه لانجه نه شته. البته که په راتلونکي کي وکړای شو چي د پایپ لاین په مرسته د بره آمو یوه برخه اوبه د افغانستان لویدېځو برخو او حتی ایران ته ولېږدوو نو ممکنه ده چي شمالي ګاونډیان د دې ډول سترو زېربنایي پروژو مخالفت وکړي.

د شمال د حوزې اوبه، تقریباً ټولي، پولو ته تر رسېدو د مخه ختمېږي خو د تاریخ په اوږدو کي ګاونډیو پر دې اوبو چندان تکیه نه ده کړې نو د هغې په اړه هم د پام وړ ستونزه نه شته.

ترکمنستان د هریرود پر بهیر له ایران سره پر ګډه پوله، د افغانستان له مشورې پرته، د دوستۍ په نامه یو بند جوړ کړی دی (۲۰۰۴) چي شاوخوا اته سوه ملیونه مکعب متره اوبه زېرمه کوي. په افغانستان کي د هریرود په مسیر کي د اوبو د زېرمه کولو او کارولو تاسیسات (تر ټولو مهم یې د سلما بند دی) ایران - او شاید تر یوه حده ترکمنستان - د خپلو منافعو له پاره ګواښ بولي. د دوه اړخیزو او درې اړخیزو توافقاتو نه شتون د اوبو پر سر اړیکي یو څه ترینګلي کړي دي خو د افغانستان د دولت رسمي سیاسي کرښه په دې سیمه کي د افغانستان کورنیو ګټو ته لومړیتوب ورکول دي. د ایران حکومتي مشرانو په وروستیو څو کلونو کي په ښکاره ډول په افغانستان کي د اوبو د مدیریت له تاسیساتو سره خپل مخالفت څرګند کړی دی او داوېره شته چي د مخربو، مزدورو وسله والو ډلو په مټ شته او جوړېدونکي تاسیسات له ګواښ سره مخ کړي. په دې برخه کي د افغانستان حکومت ته په کار ده چي هم له حقوقي اړخه او هم له امنیتي اړخه د خپلو ګټو د خوندي کولو له پاره په جدي توګه لازم تدابیر و نیسي.

د هلمند د اوبو په اړه د ایران او افغانستان تر منځ دولتي تړون شته، خو په تېرو څلورو لسیزو کي د جنګ شرایطو افغانستان دې ته پرې نه ښود چي خپله د اوبو برخه په کامل ډول وکاروي نو عملاً ایران له خپل حقه زیاتي اوبه درلودې. اوس ایران هڅه کوي چي دا بالفعل وضعیت په خپله نفعه په یو ډول نه یو ډول تل پاتي کړي او حقوقي بڼه ورکړي. دلته هم افغانستان ته په کار ده چي په حقوقي برخه کي د مذاکراتو تکره ټیمونه ولري او د ځمکي پر مخ د تاسیساتو د خوندیتابه له پاره امنیتي تدابیر ولري.

له پاکستان سره تر اوسه د اوبو پر سر کومه ریښتیني لانجه نه ده پېښه شوې خو یو لړ سوء تفاهمات شته چي د دواړو دولتونو تر منځ د بې باورۍ او شک فضا یې رامنځ ته کړې ده. زهرجن تبلیغات او پر واقعیتونو نه ولاړې اندېښني د پاکستان له خوا د افغانستان په چارو کي د لاسوهني له پاره د پلمي په توګه کارول کېږي.

## ۳ - د کابل د اوبو حوزه او له پاکستان سره اړیکي:

د کابل د اوبو حوزه د افغانستان د اوبو یوازینی سیستم دی چي له اباسین سره تر یو ځای کېدو وروسته سمندر ته رسېږي. د کابل د اوبو حوزه درې – یوه له بلې بېلي – څانګي لري:

- **د ګومل سیند:**

د څو کوچنیو خوړونو مجموعه ده چي نېږدې ۹۰۰۰ مربع کیلومتر ساحه یې پوښلې ده. د پکتیکا ولایت له سرروضي څخه پیلېږي او د ډېره اسمعیل خان کي له اباسین سره یو ځای کېږي. د ګومل پر سیند په قبایلي سیمه (ټانک) کي یو کوچنی بند رغېدلی چي شاوخوا یو نیم مکعب کیلومتر اوبه زېرمه کوي، اوه لس میګا واټه برېښنا تولیدوي او شپږ سوه مربع کیلومتره ځمکه خړوبوي. د ګومل سیند تر پوښښ لاندي کرنیزي ځمکي خورا محدودې دي. د ګومل اوبه په عنعنوي توګه کارول کېږي خو د سیمي جغرافیه داسي ده چي د اوبو د کنټرول تاسیسات که جوړېږي هم اغیز به یې یوازې د پکتیکا ولایت پر دوو یا درېیو ولسوالیو محدود وي.

- **د شمل سیند:**

د شمل سیند شاوخوا لس زره مربع کیلومتره ساحه پوښلې ده. شمل د خوړونو یوه کوچنی شبکه ده چي د کرني په برخه کي ترې استفاده کېږي. د سین عمومي بهیر تر ډېره حده د ځایي خوړونو او تویونو تابع دی.

په دوه مانده ولسوالی کي د بند پروژه به د تنیو، ګوربزو او مندوزیو للمي ځمکي خړوبې کړي خو دا بند به د شمل سیند په ښکتنی برخه کي د اوبو پر رژیم فوق العاده اغیز و نه ښندي.

---



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de

يادونه: دليکني د ليکنيزي بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

- **د کابل د سیند اصلي حوزه:**

د کابل د سیند د اوبو اصلي حوزه شاوخوا ۶۰۰۰۰ مربع کیلومتره ده. د کابل سیند له کابل ښاره شاوخوا سل کیلومتره لېرې د اونی له غابني سرچینه اخلي، د لوګر سیند، د پنجشېر سیند، د لغمان سیندونه (الیشنګ او الینګار) او د کونړ سیند یې عمده مرستیالان دي. د کابل سیند د اوبو حوزه تقریباً د افغانستان پر ۹ سلنه ځمکه پرته ده او د هېواد شاوخوا ځلوېښت په سلو کې نفوس په کې راټول دي (د نفوسو تراکم په دې حوزه کې په هر کیلومتر مربع کې تر ۹۳ پورته دی)
د کابل د سیند مسیر پر دریو مهمو برخو وېشل کېدای شي:

الف: برنۍ برخه چې له پغمانه تر پل چرخي پورې د کابل د استوګنې ساحه په کې شامله ده. د دې فرعي حوزې تقریباً ټولې اوبه (دمیدان، پغمان، قرغې او لوګر اوبه) ځاې پر ځاې – یوه برخه د سیمه ییزې کرنې له پاره او یوه برخه د کابل د ښار او شاوخوا سیمو د څښاک له پاره - مصرفېږي، یوازې د موسمي اورښتونو پر مهال یو مقدار اوبه ښکته ځي.
په دې ساحه کې د اوبو د مدیریت هر ډول تاسیسات چې را منځ ته کېږي د سیند په ښکتنیو برخو باندې منفي اغیز نه شي درلودای. د شاه توت بند په همدغه ډول تاسیساتو کې راځي.
بر عکس که په دې ساحه کې لازم تاسیسات جوړ شي نو کولای شي چې د اوبو د بهیر د موسمي تغییراتو په کنټرول او د سیلاوونو د تخریباتو په مخنیوي کې مرسته وکړي.
په چارآسیا کې د شاه توت بند له همدغو تاسیساتو څخه یو دی چې له پل چرخي ښکته د اوبو پر مجموعي مقدار خاصه اغیزه نه شي درلودای.
همدا راز د شمالي په ډنډ کې د پروان کانال یو مقدار اوبه د پنجشېر له اصلي بهیر څخه راګرزوي. امکان لري چې د دغو اوبو یوه برخه په راتلونکي کې د کابل تر ښاره راورسېږي او د ښار دننه د کابل سیند تغذیه کړي.
په شکردره کې د شاه و عروس بند هم د کرنې او هم د کابل د څښاک د اوبو د تأمین په موخه شاوخوا یو سل او اتیا زره مکعب متره اوبه زېرمه کوي.
د سیند دبهیر په دې برخه کې د انرژۍ د تولید مهم بنسټ د ماهیپر د برېښنا بند دی چې ټولې اوبه یې د برېښنا له تولید وروسته د سیند اصلي بهیر ته لوېږي.
ب: منځنۍ برخه چې د کابل او ډرونټې تر منځه پرته ده. په نغلو کې د پنجشېر سیند او له ډرونټې سره د لغمان سیندونه د کابل له سیند له اصلي بهیر سره یو ځای کېږي. د نغلو د برېښنا بند، د سروبي د برېښنا بند او د ډرونټې د برېښنا بند هغه عمده تاسیسات دي چې د سیند پر دې برخه رغېدلي دي. په سروبي کې د یو بل برېښناکوټ رغول هم د دولت په کاري پلانونو کې شامل دي. دلته له اوبو څخه یوازې د انرژۍ د تولید په موخه کار اخیستل کېدای شي ځکه چې د وربشمین تنګي په اوږدو کې د کرنې وړ ځمکې نه شته. که له وربشمین تنګي وروسته د لغمان د کڅونو د خړوبولو له پاره تاسیسات ایجاد هم شي، د سیند د اوبو پر عمومي رژیم د پام وړ اثر نه شي ښندلای.
د پنجشېر د سیند فرعي حوزه پر ۱۳۰۰۰ مربع کیلومترو پرته ده. د دې حوزې د کرنیزو ځمکو مجموعه تر ۱۳۰۰ مربع کیلومترو کمه ده چې شاوخوا نهه سوه مربع کیلومتره یې له پخوا راهیسې خړوبېږي. که د پنجشېر او غوربند پر سین د اوبو د مدیریت تاسیسات جوړ شي نو په نغلو کې د دغه سیند پر جریان ډېر کم اغیز ښندلای شي.
ج: د کابل سیند ښکتنۍ برخه: د پنجشېر او لغمان اوبه تقریباً ټولې د ډرونټې تر بنده رسېږي. په ډرونټه کې د ننګرهار کانال یو مقدار اوبه د سیند له اصلي بهیر څخه اړوي. له جلال اباد سره د کونړ سیند هم د کابل له سیند سره یو ځای کېږي.
د کونړ د سیند فرعي حوزه ۱۱۶۰۰ کیلومتره مربع ده. له دې جملې یوازې نهه سوه مربع کیلومتره ځمکه تر کرنې لاندې راتلای شي. د کونړ د سیند تر ټولو لوړ اقتصادي ارزښت د برېښنا په تولید کې دی چې تر ۲۲۰۰ میګاواټو زیات ظرفیت لري
د کونړ پر سیند د اوبو د زېرمه کولو تاسیسات به د کابل سیند په ښکتنۍ برخه (پښتونخوا) کې د سېلاوونو په مدیریت کې خورا ګټور ثابت شي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

## له پاکستان سره د اوبو وېش:

د پاکستان او افغانستان په دوه اړخیزو اړیکو کې تر اوسه د اوبو پر موضوع رسمي خبرې اترې نه دي شوي. د ۲۰۱۳ کال په اګست کې د افغانستان د مالیې وزیر ډاکټر حضرت عمر زاخېلوال او د پاکستان د مالیې وزیر ښاغلي محمد اسحق ډار د کونړ پر سیند د برېښنا د یو سترې پروژې د ګډ کار خبره وکړه چې تر هغې وروسته نه افغانستان او نه پاکستان دا موضوع تعقیب کړې ده.
که د کابل د اوبو د حوزې طبیعي جوړښت ته وګورو، پاکستان له افغانستان سره نه اوس د اوبو پر سر کومه ستونزه لري او نه یې په راتلونکې کې پیدا کولای شي. که افغانستان د کابل سیند د اوبو له حوزې څخه اعظمي استفاده هم وکړي له ډیورنډ کرښې د اووښتونکو اوبو په مقدار کې د پام وړ توپیر نه شي راتلای.
بالمقابل، که چېرې افغانستان او پاکستان د خپلو ګډو اقتصادي منافعو له پاره د کرښې دواړو لوریو ته د اوبو او ځنګلونو پر مدیریت په ګډه کار وکړي، د شتو امکاناتو په کارولو کې سره همکاري وکړي نو ګټه به یې د کرښې د دواړو غاړو ولسونو ته ورسېږي.
د پاکستان او افغانستان تر منځ د اوبو مدیریت کېدای شي د نړۍوالو همکاریو یو فوق العاده اغیزمن موډل هم واوسي. د کابل د اوبو پر حوزه که د انرژي د تولید تاسیسات رغېږي نو دواړه هېوادونه ترې ګټه اخیستلای شي. سر بېره پر دې، که د کابل د اوبو په برنۍ برخه کې د طبیعي آفاتو، د چاپېریال د ککړتیا او د ژواک د چاپېریال د تخریب مخه نیول کېږي نو هماغومره یې د دې حوزې د ښکتنۍ برخې اوسېدونکي هم له ښو نتایجو برخه من کېږي.
دا به د دواړو هېوادونو د ولسونو په ګټه وي چې – له نورو اختلافاتو سره سره – دواړه دولتونه سره د اوبو او د ژواک د چاپېریال په سالم مدیریت کې همکاري وکړي.

## سیاسي لوبې او زهرپاشنې:

افغان سیاستوال عموماً د کونړ پر سیند او په مجموع کې د کابل د اوبو د حوزې د مدیریت په برخه کې خپله ناغېړي د پاکستان د لاسوهنې په پلمه توجیه کوي. پاکستاني سیاستوال هم هڅه کوي چې په افغانستان کې د خپلو ناوړه سیاستونو د توجیه له پاره له کرښې اخوا ولسونو او عامه افکارو ته د پاکستان پر طبیعي سرچینو د هند د برلاسي کېدو ډار تلقین کړي.
پاکستاني مطبوعات، سیاسیون او استخباراتي کړۍ د پاکستان سیاسي، اقتصادي او امنیتي مشکلاتو کې د افغانستان پر نقش ځکه ډېر ټینګار کوي چې د پاکستان سیاسي بقا په بهرني ګواښ کې ویني. د پاکستان د ایجاد له وخته تر دې دمه، د پاکستان دولت هڅه کړې چې په خپل ګاونډ کې بې ثباتي رامنځ ته کړي، له ګاونډیو هېوادونو او ولسونو سره، په یو ډول نه یو ډول، د تخاصم فضا ګرمه وساتي چې په کور دننه د بېلابېلو قومونو د حق غوښتنې تمایلات کنټرول کړي. له همدې امله، سره له دې چې د پاکستان دولت عملاً د اوبو د مسئلې پر سر د خبرو اړتیا هېڅکله نه ده احساس کړې په غیر مستقیم ډول پر خپلو طبیعي زېرمو او سرچینو د افغانستان برلاسی د خپل داخلي امنیت له پاره ګواښ ګڼي.
دا چې پاکستاني مطبوعات او د هغوی تر شا فعال استخباراتي لاسونه د کورنیو عامه افکارو د بوخت ساتلو په موخه په افغانستان کې هر اقتصادي پرمختګ او د هرې زېربنایي پروژې پلي کېدل د پاکستان پر سیمه ییز امنیت د هند د نادوستانه برید په توګه معرفي کوي د پاکستان د اویا کلن تاریخ یوه ثابته مشخصه ده.
د دې تبلیغاتو د ناریښتینوالي د ثابتولو له پاره دغه یوه ټکي ته اشاره کافي ده چې پاکستان له ټولو دښمنیو سره سره دې ته حاضر دی چې په کشمیر کې له هند سره د اوبو د وېش له پاره دوه اړخیزه همکاري وکړي خو په افغانستان کې یوه خورا کوچنۍ پروژه د شکونو په یو پراخ جال کې پوښي.
له بده مرغه په افغانستان کې د عامه افکارو جوړوونکې کړۍ (کورني مطبوعات او په کورنیو مطبوعاتو کې فعال کارپوهان) د هېواد دننه واقعیتونو په اړه کره، مستند مالومات نه لري، یا یې د لاس ته راوړلو هڅه نه کوي، نو تر ډېره بریده پر بهرنیو سرچینو تکیه کوي. د افغانستان او پاکستان تر منځ د اړیکو په ارتباط، بهرنۍ سرچینې هم د افغاني واقعیتونو په پرتله د استخباراتي کړیو – او په خاص ډول د پاکستاني استخباراتو - له خوا د خپرېدونکو مالوماتو اخیستلو ته ډېر تمایل لري.
هغه زهر چې پاکستاني استخاراتي حلقات یې د خپلو لنډمهالو تاکتیکي ګټو له پاره د پاکستاني او نړۍوالو مطبوعاتو له لارې خپروي او هڅه کوي د افغانستان او هند پر همکاریو د شک څادر وغوړوي، په اوږده مهال کې د کرښې د دواړوو خواوو د ولسونو په تاوان دي.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

بیا هم پاکستاني استخباراتي کړۍ کېدای شي د یوې تاکتیکي حربې د درلودلو په خاطر دغه زهر پاشنې په خپله ګټه وبولي خو په افغانستان کې مطبوعاتي فعالین د مالوماتو د نشتوالي له امله په غیر شعوري ډول د همدغو زهرو د بیا خپرولو له لارې د خپل هېواد منافعو ته ضرر رسوي.
د رواني جګړې یو محوري ټکی هم همدا دی چې په خلکو کې داسې ذهنیت ایجاد شي چې مثبتو او رغوونکو اقداماتو ته هم د شک په سترګه وګوري. اوبه، د یوې حیاتي طبیعي شتمنۍ په صفت، د هر چا له پاره مهمه او حساسه موضوع ده. که له کرښې اخوا وګړو ته دا احساس ورکړ شي چې په افغانستان کې د اوبو د مدیریت هر برۍ د هند او پاکستان په مقابله کې د هند په ګټه تمامېږي نو هغه خلک که له افغانستان سره خواخوږي هم ولري د هند سره د دښمنۍ په خاطر د افغانستان د مشروعو منافعو قربانول ورته ستونزمن نه برېښي.
په کور دننه هم، که د افغانستان وګړو ته دا شک پیدا شي چې د افغانستان د اوبو مدیریت د پاکستان له پاره ګواښ بلل کېدای شي نو د ځوابي اقداماتو له وېرې ممکن د دغه ډول رغنیزو پروژو ناکامېدل ورته یوه لازمه قرباني ښکاره شي.
د افغانستان او پاکستان په اړیکو کې د اوبو د مسئلې ابعاد او په دې اړه د وضاحتونو ایجادول د پاکستان له خوا په افغانستان کې د پلان شوې رواني جګړې سره د مقابلې یوه ارزښتمنه وسیله ده.
افغاني مطبوعاتو ته په کار ده چې د ځمکنیو واقعیتونو د دقیقې څېړنې له لارې د هېواد د دښمنانو په لاس له خپلې خوښې پرته د افغانستان د منافعو پر ضد ونه کارول شي.

پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ